# په ACSTD کې مو خپلې لیکنې او څیړنې نشر کړئ!

د لیکوالانو لپاره د مقالې لیږلو پروسه او لارښوونې

ACSTD
AFGHANISTAN CENTER
for the Study of
TERRORISM & DEMOCRACY
Uniting Communities

## په ACSTD کې مو خپلې لیکنې او څېړنې نشر کړئ!

ACSTD د بصیرت او اغېزلرونکو نشراتو لپاره چې د دې مرکز اړونده موضوعګانو او تحقیق لکه تروریزم، افراطیت، ډیموکراسي، حکومتداري، او ډیموکراسۍ رایجولو...وغیره باندې راڅرخیږي، یو مناسب پلټ فارم دی. موږ د علم خاوندانو، متخصصینو، زده کونکو/محصلینو، څېړونکو، او مسلکي افرادو د لیکنو او علمیت چې معنی لرونکو بحثونو او عملي حل لارو ته وده ورکوي، هرکلی کوو.

## د نشراتو/لیکنو کټګوري

### لنډې لیکنې

**تبصرې:** د اوسنیو او روانو حالاتو په اړه لنډې، متمرکزې لیکنې.

**تحلیلونه:** لنډې څېړنې او سپړنې چې د کلیدي او عمده موضوعاتو په اړه ژور او هراړخیز معلومات وړاندې کوي.

### اوږدې لیکنې

**څېړنې او تحقیقي مقالې:** د اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخیزې څېړنې، او ژورې تحقیقي مقالې.

**پالیسي بریف:** مفصلې او تخصصي سپارښتنې او معلومات چې د پالیسي جوړونکو لپاره چمتو کیږي.

### له موږ سره د ليکنو شريکولو طريقه:

هر ډول ليکنې چې د ACSTD له ماموريت سره برابرې وي او د دې مرکز د اړونده موضوعاتو (لکه تروريزم، افراطيت، ډيموکراسي او نور...) په اړه اکادميک او پاليسي محوره بصيرت او پوهې ته وده ورکړي، موږ يې هر کلي کوو ځو له موږ سره د نشرولو لپاره شريکې شي. د خپلو ليکنو راسپارلو لپاره لاندې ګامونه ترسره کړئ:

### 1 ليکنه مو د يو سند په خير چمتو کړئ:

1

مهرباني وکړئ خپله ليکنه مو د ACSTD په معيارونو برابره کړئ.(لاندې برخه کې د ليکونکي لارښود ته مراجعه وکړئ).

2

د ليکنو د فارمټ او اوږدوالي لپاره مشخص شوي معيارونه په پام کې ولرئ .

### 2 ليکنه مو د بريښناليک له لارې راسره شريکه

خپله ليکنه مو [info@acstd.org] ته ايميل ته واستوئ او د موضوع په برخه کې (Subject line) مو د ليکنې ډول روښانه کړئ ) د بيلګې په توګه، د لنډه ليکنه، تبصره يا اوږده ليکنه، څېړنيزه مقاله.

### 3 لنډ ژوندليک مو هم پکې شامل کړئ:

له خپلې ليکنې سره مو خپل لنډ ژوندليک (تر ۱۵۰ لغاتو پورې) ضميمه کړئ، چې په دې کې ممکن ستاسې مسلکي وابستګي (institutional affiliation) او مرتبط شاليد هم شامل وي.

## 4 د ارزونو او ایډیټ پروسه

تولې لیکنې د بیاکتنې او ایډیټ پروسې څخه تیریږي .ښايي له تاسې سره فیډبک او نظریات هم شریک شي څو لیکنې مو د وضاحت، ربط او منطقي تسلسل او د ACSTD معیارونو په رڼا کې ایډیټ او غني شي.

### د لیکونکي لارښود

د لیکنو د کیفیت او د لیکلو د سبک د سازګارۍ لپاره، د لیکنو د شریکولو پر مهال مهرباني وکړئ لاندې لارښوونې په نظر کې ونیسئ:

#### د محتوا تمرکز

مقالې او لیکنې باید د ACSTD ماموریت پورې مربوط او اړونده وي، او په افغانستان او ټوله سیمه کې تروریزم، تروریزم سره مبارزې، افراطیت، ډیموکراسی، او داسې نورو اړوندو موضوعاتو باندې راوڅرخیږي.

#### اصلیت او کیفیت

لیکنې باید اصلي، ناچاپ شوې وي او په لوړو اکاډمیکو او پالیسی معیارونو باندې برابرې وي. محتوا باید په سم شکل ترتیب شي، او د شواهدو پر بنسټ د واضح دلیلونو او تحلیلونو درلودونکې وي.

#### د لیکنو د اوږدوالي معیارونه

**لنډې لیکنې(تبصرې او تحلیلونه):** له ۱۵۰۰ تر ۲۰۰۰ لغاتونو پورې

**اوږدې لیکنې(څېړنیزې مقالې):** ۵۰۰۰ نه تر ۸۰۰۰ لغاتونو پورې چې پدې کې ماخذونه ندي شامل.

**پالیسي بریف:** ۲۰۰۰ نه تر ۳۰۰۰ لغاتونو پورې.

ادامه ...

### ماخذونه

د ټولو سرچینو ماخذونه په سمه توګه ولیکئ .تر هغې چې په ټوله لیکنه کې ماخذونه په یو ډول او شان لیکل شوي وي، موږ ته د اکاډمیکو ماخذونو ټول ستایلونه د منلو دي، خو د شیکاګو او APA ستایل سپارښتنه کوو.

### ژبه

موږ په دري واړو (انګلیسي، پښتو او دري) ژبو کې لیکنو منو.

### فارمټ او شکل

مهرباني وکړئ لیکنه مو په Word فارمټ (.doc, docx) کې راسره شریکه کړئ، فونټ اندازه ۱۲، دوه چنده فاصله او پاڼې باید شمیره ولري.

### د پښتو او دري ژبو لیکنو لپاره د ژبې ځانګړي لارښووني

د پښتو او دري ژبو لیکنې باید د افغانستان پر اکاډمیکو، تعلیمي او کلتوري معیارونو برابرې وي څو ډاډ ترلاسه شي چې لیکنې او نشرات د افغان لوستونکو او مخاطبینو لپاره هدفمند، مرتبط او د لاسرسي وړ دي. لاندې لارښوونې د تطبیق وړ دي:

### اصطلاحات

داسې اصطلاحات وکاروئ چې د افغانستان اکاډمیو او خپرونو سره مطابقت ولري. د هغو اصطلاحاتو او لغاتونو له استعمال څخه ډډه وکړئ چې د سیمې له ژبو یا لهجو څخه اخیستل شوي وي، نااشنا وي او یا هم د افغاني نورمونو سره توپیر لري
له لیکونکو څخه هیله کیږي چې د مناسبو اصطلاحاتو استفادې لپاره معیاري افغاني قاموسونو او رسمي خپرونو ته مراجعه وکړي.

### املا

له مروجې افغاني املا څخه استفاده وکړئ. په پښتو یا دري رسم الخط کې له سیمه ایزو لهجو یا کلیماتو ډډه وکړئ چې شایي ناسم پوهاوی رامنځته کړي یا د لیکنې وضاحت راکم کړي .

### د لوستونکو/مخاطبينو حساسيت

محتوا بايد د افغانستان متنوع کلتوري او ژبني پس منظر منعکس کړي. له سيمه ايز تمايلاتو يا بې حده زيات محلي اصطلاحګانو څخه ډډه وکړئ چې ممکن د ملي او نړيوالو لوستونکو سره سمون ونلري .

### لحن او سبک

يو بې طرفه او اکاډميک ټون وکاروئ چې د علمي يا پاليسۍ محوره ليکنو لپاره مناسب وي.

د پراخ لاسرسي لپاره پيچلي نظرونه او موضوعات ساده کړئ پداسې حال کې چې د تحليل ژورتيا مو ساتلې وي.

موږ ستاسو ليکنو او نشرياتو او له نړيوالو لوستونکو سره ستاسو نظرونو او بصيرت شريکولو ته سترګې په لار يو. که تاسو کومه پوښتنه لرئ يا نورې لارښوونې ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ موږ سره په info@acstd.org اړيکه ونيسئ.

+44 7470 485187

info@acstd.org

St. Andrews, Scotland, United Kingdom

www.acstd.org